سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۱۲/۱۳

# عجیبه مینه!

وروړ سره دښمن یم، خو دښمن سره می مینه ده!
وژنم وطندار می، خو وطن سره می مینه ده!

نه پرېږدم ګلونه چې، را شنه شی د اغزو په ځای
باغ سیزم اورونو کی، چمن سره می مینه ده!

نه شمه لیدلئ، چې په ښکلو جامو پټ وی څوک
ډېره لـه جامو نه، د کفن سره می مـینه ده!

ماتـه می استاد، دا لاربښـونه لا پرون کړې
ځکـه په سرو وینو، ککړ تن سره می مینه ده!

مـکوئ  خواري په ما، زه نشم بد لولی ځان
دا د اذل کار دی، زنـکـدن سره می مینه ده!

هـلته چی د چا د مرګ و، درد خبری شی پکی

وایمه ریښـتیـا، دې انجمـن سره می مینه ده!

مانه چا جوړ کړی، کلیوالو ته د مرګ رُبات

خیري ګریوانو، خیري لمن سره می مینه ده!

ډیـره عـجـیبه ده! زمـا مـینه، عـجیبه مینه!

وژنم وطندار می، خو وطن سره می مـینه ده!

دسمبر/۱۰/۲۰۱۹
تورنتوـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

عجیبه مینه
S_klewal_ajiba_mina.pdf